جمال کټوازی ۲۰۱۳/۰۶/۱۸

# ملي همغږي، ملي اجماع (National Consensus)

## او که مافیایي مصلحتونه؟

په دې ورستیوو کې د یو شمیر افغا ن سیا ستوالو او همدارنګه د ډیرو افغاني رسنیو له خوا د ملي همغږي په هکله تودې خبرې اترې رواني دي.

ملي همغږي د لمړي ځل لپاره د راتلونکو ټا کنو په هکله ښاغلي زلمي خلیل زاد یاده کړه، چې بیا وروسته ځینې نورو سیا ستوالو، لکه: ولسمشر حا مد کرزي، د بلخ والي عطا محمد نور او نورو سیا ستوالو له خوا ور با ندې خبرې اترې وشوې.

خو تر دا مهاله هیڅا د"ملي همغږي" ځا نګړی تعریف نه دی کړي او نه هم د ملي همغږي په هکله عامو خلکو ته بشپړما لومات او تو ضیحات ورکړشوي.

خو مخکې د دې نه چې په ملي همغږي (اجماع ) با ندې خبرې وکړو با ید پوه شو، چې اجماع څه ته وایي؟

اجماع (همغږي) د نظر یووالي ته وایي.

همغږي هغه مهال را منځ ته کیدی شي، تر څو ټول ګډونوال د زړه له کومې او پاک نیت په در لودلو سره د یوې موضوع په هکله خپل لید لورونه د نورو سره شر یک کړي او په پایٔ کې یوې ګډې پر یکړې ته ورسیږي.

ملي همغږي (ملي اجماع) هغه همغږي ته وایي، چې ګډونوال یې په ملي کچه د هیواد د را تلونکي په هکله، په مختلفو بر خو کې خپل اندونه سره شریک کړي او په پا یله کې د ملي ګټو په نظر کې نیولو سره په ګډه یوه پر یکړه وکړي.

اوس به راشم په افغا نستان کې د ولسمشرۍ را تلونکو ټا نکو په اړوند، همغږي

(اجماع ) په هکله خپلو پو ښتنو ته:

۱- د ملي همغږي خبرې د ځینو داسې کسا نو د خولې څخه اوریدل کیږي، چې هغوئ پخپل ملي هویت با ندې شک لري، ځان افغان نه ګڼي، شخصي ګټو ته د ملي ګټو په پرتله لومړیتوب ورکوي، د خپلو شخصي ګټو په خا طر په لوئ لاس قو مي تعصبو نه ته لمن وهي. نو اوس پو ښتنه داده، چې داسې کسان به څنګه ملي همغږي را منځ ته کړي؟

۳- د ملي همغږي کاري ډله به کومه اجنډا ولري؟

۴- د ملي همغږي کاري ډلې مشر توب به څوک کوي؟

۵- په دې اجماع کې به ملي ګټو، ملي یوالي، د دولت وسلوالو مخا لیفینو سره د سولې پړاو، کار مسلکي کسا نو ته ور سپارل او د ښځو حقونو ته به تر کومې کچې پا ملر نه کیږي؟

۶- د ملي همغږي تر نامه لاندې به د یو کس (کا ندید) لپاره کار کیږي او که به د درغلیو څخه پاک پراخو ټا کنو ته کار کیږي؟

۶ - د ولسمشرئ ټا کنو لپاره په د همغږي یوه کاري ډله وي او که څو کاري ډلې؟


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که چیر ته ځو دهمغږۍ (اجماع) کاري ډلي وي، نو بیا به مونږ افغانان کومې دهمغږي ډلي پر یکړوته ملي همغږي وایو؟ که چیر ته دهمغږي (اجماع) یوه کاري ډله وي، نو بیا به د هغې اجماع ګډونوال څوک وې؟ بیا به هغه کسان وي، چې لا سو نه یې د افغا نانو په وینو ککړدې، لکه دا ځینې جګړه ماران او زور واکي، د ځمکو لوټماران، چې اوس هم پوره واک ورسره دی. که چیرته داسي وشي نو هغه وخت به بیا هغه ملي همغږي نه بلکې د پخوا په شان د واک د ویش په سر به مافیایي مصلحتونه وي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ